# د قران کريم او نبوي أحاديثو په رڼا کې د پلان جوړونې عملي بيلګې

پوهنيار عبدالمطلب راسخ[1]، پوهنيار حضرت على خليلى[2]، استاد روف الله همت[3]

[1،2]اسلامي ثقافت څانګه، شرعيات پوهنځی، لغمان پوهنتون

[3]نوره ليسه ، د لغمان ولايت معارف رياست

ايميل: Abdulmutalib.rasikh@gmail.com

**لنډيز**

د اسلام مبارک دين د ژوند ټولو برخو ته نظر کوي، انساني حاجات په نظر کې نيسي، دا چې اسلام يو تام، عام او شامل نظام دی له همدې امله په دې نظام کې پلان جوړونې ته اړتيا ليدل کيږي، تر څو وخت په وخت د خپلو کړنو لپاره پلان جوړ کړل شي، ددې څېړنې اساسي موخه په اسلامي شريعت کې د پلان جوړونې بيلګې ده، چې په دوو اهدافو مشتمل ده: د قران کريم په رڼا کې د پلان جوړونې بيلګې او نبوي أحاديثو په رڼا کې د پلان جوړونې بيلګې څېړل دي، ددې څېړنې تګلاره کتابتوني انتخاب شوې ده، په دې برخه کې د ۲۰ منابعو څخه ګټه اخيستل شوې ده، تر ډېره د المکتبة الشاملې، خادم الحرمين الشريفين څخه ګټه پورته شوې ده، همدا راز د انټرنيټ په برخه کې يو شمېر سايټونو څخه او له موضوعي تحليل څخه پکې استفاده شوې دي، په دې برخه کې علماؤ يو شمېر ليکنې ترسره کړې دي، البته په ځانګړې توګه داسې کومه مقاله او يا ليکنه ونه موندل شوه چې په مشخصه توګه همدا موضوع روښانه کړي، ددې مقالې په جريان کې به واضح شي چې پلان جوړونه په اسلامي شريعت کې مشروع عمل دی، همدا راز به د قران کريم په رڼا کې د پلان جوړونې بيلګې او نبوي أحاديثو په رڼا کې د پلان جوړونې بيلګې روښانه شي. دا چې پلان جوړونه يو ديني مسؤليت او مهم دی اداراتو ته سپارښتنه کيږي چې په پلان جوړ او په ژوند کې ور څخه کار واخلي.

**کليدي کليمې:** قران ، حديث، التخطيط، ګټې، بيلګې.

## سریزه

الحمدلله والصلاة والسلام على خير خلقه محمد وآله وصحبه أجمعين، أما بعد:

دا چې د اسلامي ټولنې لپاره د پلان شتون ډېر اړین دی؛ ځکه چې اسلام مبارك دین د ژوند ټولو برخو ته نظر کوي، انساني حاجات په نظر کې نیسي، دا چې اسلام یو تام، عام او شامل نظام دی له همدې امله په دې نظام کې پلان جوړونې ته اړتیا لیدل کېږي، تر څو وخت په وخت د خپلو کړنو لپاره پلان جوړ کړل شي، او اسلامي نړۍ په مختلفو زمانو او مرحلو کې د مختلفو پلانونو شاهد دی، او پرته له پلان نه کارونه خنډ او ځنډ سره مخ کیږي، او د اسلامي شریعت له بنسټیزو اصولو څخه یو أصل پلان او تدبیر دی چې د ژوند د چاروتنظیم ، د هدف ټاکنه او د راتلونکی لپاره د تیارۍ د پلانګذارۍ له لارې تر سره کیږي، پلان جوړونه نه یواځې یو تنظیمي عمل دی بلکې د اسلامي شریعت له نظره یو شرعي مسؤولیت هم ګڼل کیږي.

ددې څېړنې عمده موخه د په اسلامي شریعت کې د پلان جوړونې عملي بیلګې څېړل دي، دا چې پلان جوړونه په اسلام کې ډېره اړینه او مهمه موضوع او د شریعت غوښتنه ده او اسلامي ټولنه د اسلام د تمثیل او تطبیق په بهانه ډېرې وختونه د خپلو راتلوونکو کارونو لپاره هیڅ پلان جوړونه نه کوي چې ګټې ورباندې مرتب شي، بلکې همداسې بې پلانه او پرته له چمتو والی نه عمل میدان ته وځي دغه څېړنه کې مو د دې مشکلاتو د حل او په اسلامي شریعت د پلان جوړونې پر بیلګې تفصیلي بحث کول دي، په همدې موخه دا موضوع انتخاب شوې ده، تر څو دیادو مشکلاتو څخه خبرداری ترلاسه شي او خپلو کارونو لپاره پلان جوړونه تر سره کړي، او دشریعت په دغه اصل چې تدبیر یا پلان دی عمل وشي.

که څه هم په عین موضوع باندې مستقله علمي لیکنه نه ده شوې البته یو شمېر څېړونکو او لیکوالانو کار کړی دی، او هغوی مختلفې لیکنې کړې دي، چې د پلان په پیژندنې بحثونه شوي دي، همداراز د ځینو پلانونو په تړاوو هم یادونې شوې دي، او یادې موضوعګانې څېړلي دی، او همدارنګه یو شمېر لیکوالانو او څېړونکو د پلان یا تخطیط په راپیدا کېدولو، اهدافو او پر عملي بیلګو یې بحث کړی دی؛ خو په مشخصه توګه د دې هدف تر عنوان لاندې کومه لیکنه نه ده تر سره شوې،

همدې ته په کتلو سره په اسلامي شريعت کې د تخطيط يا پلان جوړونې عملي بيلګې څېړل موضوع غوره او انتخاب شوه. ددې څېړنې په نتيجه کې روښانه کېږي چې په اسلامي شريعت کې تخطيط يا پلان جوړونې بيلګې شته او که نه؟ او کوم فوايد څخه برخمن دی؟ او د پلان جوړونې تاريخچه به روښانه شي.

## موخې

- د قران کريم په رڼا کې د پلان جوړونې عملي بيلګې
- د نبوي أحاديث په رڼا کې د پلان جوړونې عملي بيلګې.

## د څېړنې پوښتنې

**اصلي پوښتنه**

١ ـ آيا په اسلامي شريعت کې د پلان جوړونې بيلګې شته او که نه؟

**فرعي پوښتنې**

١ـ آيا په اسلامي شريعت کې د پلان جوړونې عملي بيلګې شته او که نه؟

٢ـ په اسلامي شريعت کې پلان جوړونه کومې ګټې لري؟

**د څېړنې ستونزه:** دا چې اسلامي پلان د ټول بشريت لپاره د ښې حکومتولۍ تضمين کوي اوپه ځانګړي ډول د اسلامي هېوادونو لپاره نو د اسلامي پلان مهم عناصر پېژندل اړين او ضروري دي ، چې متاسفانه په ياده موضوع کې زمونږ پښتنو ليکوالانو کافي او مستقله ليکنې نه وې کړې؛نو د عربي نړۍ ليکوالانو د ليکنو په تعقيب مې د الله تعالی په مرسته موضوع کې يو څه راټول کړل.

## د څېړنې مخينه

د اسلامي شريعت په رڼا کې د پلان جوړونې بيلګې په اړه په ملي ژبه کې زما د پلټنې موافق کومه مقاله او تحقيقي ليکنه تر سترګو نه شوه، البته په عربي ژبه کې دکتور عثمان فوزي علي د التخطيط في ضوء القرآن الكريم تر عنوان لاندې يوه ليکنه کړې ده، او دکتور علي محمد جريشه د التخطيط للدعوة الاسلامية تر عنوان لاندې او دکتور خيري حافظ الأغا د التخطيط فی حياة الرسول صلى الله عليه وسلم تر عنوان لاندې او داسې نورې ليکنې چې ځينې اوږده او ځينې ډيرې لنډې دي ، الله جل جلاله دې د هغوی هڅې قبولې او زما ليکنه دې الله جل جلاله د استفادې وړ وګرځوي.

**د موضوع ارزښت :** موضوع خورا اهمیت او ارزښت لرونکې ده ځکه مونږ په داسې عصر کې ژوند کوو، چې اکثره اسلامي نړۍ د غرب څخه متأثره ده هر هغه څه چې په غرب کې دود وي دلته یې خلک هم کاپي کوي؛ نو اکثره ځوان قشر د غرب پلان څخه اغېزمن شوي او د اسلامي پلان جوړونې څخه نا خبره پاتي او که د اسلام کې د پلان جوړونې یادونه ورته کوې تعجب کې پاتې کیږي؛ په دغه څېړنه کي د ژوند په ټولو چارو کې د پلان چمتو کولو پر ارزښت د اسلام د مبین دین زریني پلوشې راجمع او تشریح شوي دي. دا څېړنه زموږ سره مرسته کوي چي د دنیا د کارونو په اړه بې اعتنایې نوره ختمه کړو او پر ځای یې هر څه د یو منظم پلان له مخې مخته لاړ شو.

لکه څرنګه چې ښکاري، دولتونه او سازمانونه پلان جوړونې ته ځانګړی اهمیت ورکوي، ځکه دا یوه وسیله ده چې د راتلونکو شرایطو کنټرول لپاره کارول کېږي، تر څو خپلې موخې ترلاسه کړي. د موخو د ټاکلو، د تګلارو د جوړولو، د پروګرامونو د ډیزاین، او د اړینو پړاوونو د مشخص کولو له لارې، اړینې چارې د یو ټاکلي وخت په چوکاټ کې ترسره کېږي، چې دا کار د دې لپاره ترسره کیږي چې د چارې تصادفي او بې نظمه مخه نیسي(۱۶) .

**د څېړنې کړنلاره**

ددې مقالې د لیکلو په لړ کې مې دا تګلاره غوره کړې د هرې بیلګې په اړه مې اول دقرآن کریم څخه دلیل راوړی او د ایت پښتو ژباړه مې هم کړې ده، په دویم قدم کې مې نبوي احادیثو ته مراجعه کړې او د حدیث د ذکرکولو په صورت کې مې د حدیث ژباړه او حکم هم کړې، د قرآن کریم او نبوي سنتو څخه وروسته د اسلامي ادارې معتمدو او معتبرو متونو ته مراجعه کړې او د مسئلې اړوند مې د هغوی نظریات راوړي، د لیکنې کړنلاره مې کتابتوني ده او مقاله کې مې د پښتو لیکدود ټول معیارونه تر خپلې وسعې مراعت کړي.

---

۱۶ـ هنیدی ،عبدالعزیز بن محمد هنیدی، التخطیط فی الإدارة الإسلامیة ،چاپ کال: 1431 ه ق، مخ ۱.

**منځ پانګه یا مونډنې**

ددې څېړنې اساسي موخه د اسلامي شریعت په رڼا کې د پلان جوړونې عملي بیلګې رابرسېره کول وو چې د مختلفو منابعو او سرچینو څخه لاندې موضوعګانې په ګوته شوې:

**أ. قران کریم پیژندنه**

**قرآن کریم تعریف:** هو ((کلام الله المنزل علی نبیه محمد - صلی الله علیه وسلم - ، المعجز بلفظه ، المتعبد بتلاوته ، المنقول بالتواتر ، المکتوب في المصاحف ، من أول سورة الفاتحة إلی آخر سورة الناس (١٧).

ژباړه: قرآن د الله تعالی هغه وینا (کلام) دی چې پر خپل پیغمبر محمد ﷺ نازل شوی، داسې اعجاز لري چې هېڅوک یې مقابله نشي کولی، تلاوت یې عبادت ، په تواتر سره را رسېدلی، له "سورة الفاتحة" څخه تر "سورة الناس" پورې ټول مبارک آیتونه په مصاحفو کې لیکل شوی. (١٨).

**ب. حدیث پېژندنه**

حدیث په لغت کې د قدیم ضد نوی او جدید ته وایي.

په اصطلاح کې هو کل ما أضیف إلی النبي صلی الله علیه وسلم من قول أو فعل أو تقریر أو صفة خلقیة أو صفة خلقیة. ژباړه: هر هغه قول، فعل ، تقریر، او ذاتي او اخلاقي صفت چې رسول الله ﷺ ته منسوب وي. حدیث بلل کېږي.

ج. **د پلان جوړونې مفهوم**

پلان جوړونه هغه پروسه ده چې نن پکې پرېکړه کېږي چې سبا څه باید وشي، او د دې د ترسره کولو غوره لارې کومې دي، کوم کسان د پلان جوړونې لپاره غوره عناصر دي(١٩)؟ او دا کله باید عملي شي؟ په بله مانا ، پلان جوړونه هغه فکري

---

١٧ـ المدخل إلی علوم القرآن والعلوم الإسلامیة لفرشوخ ، ص ١١

١٨ـ المدخل إلی علوم القرآن والعلوم الإسلامیة لفرشوخ ، ص ١١

١٩ـ د پلان جوړونې لپاره غوره کسان عبارت دي له : با تجربه او متخصصین: هغه کسان چې د خپلې برخې (اقتصاد، تعلیم، دین، ټولنه...) تجربه او علم لري. مشران او پالیسي جوړوونکي: هغه مشران چې د ستراتېژیک فکر وړتیا لري. ټیم کار کوونکي: هغه اشخاص چې له نورو سره ګډ کار، مشوره او تحلیل کولی شي. ایماندار، ژمن او د امانت وړ اشخاص: په ځانګړي ډول په اسلامي چوکاټ کې، چاته چې مسؤلیت سپارل کېږي باید تقوا او صداقت ولري.

مرحله ده چې له هر کار څخه مخکې ترسره کېږي، او د هغې پایله دا ده چې پرېکړې وشي ـ یعنې څه باید وشي؟ څنګه باید وشي؟ او کله باید ترسره شي؟

پلان جوړونه د اداري اصولو څخه نه یواځې لومړی عنصر یا اصل ده، بلکې تر ټولو مهم هم دی، دا د ټولو نورو اداري عناصرو څخه وړاندې راځي. ځکه چې د پلان پرته هېڅ کار په ښه ډول نه شي ترسره کېدای، تر څو چې د هغه لپاره مخکې له مخکې پلان نه وي جوړشوی.

پلان جوړونه د اداري بهیر له نورو عناصرو لکه تنظیم، همغږي (تنسیق) او نورو سره ژوره اړیکه لري. هغه دا چې همدا تخطیط او پلان جوړونه ده چې ټاکي، څه باید وشي؟، څنګه باید ترسره شي؟، او څوك د ترسره کولو لپاره مناسب دی، لکه مخکې مو یادونه وکړه، که چیرته د پلان (تخطیط) پر بنسټ ټاکلي مسؤلیتونه نه وي، نو بیا د تنظیم (تنظیمي جوړښت) موجودیت هېڅ مانا نه لري

ورزشي ټولنې ډېر اهمیت ورکوي پلان جوړونې ته، ځکه دوی غواړي چې ښه کار وکړي، پرمختګ وکړي، اتلولۍ وګټي او خپل کچه لوړه کړي. هر څلور کاله کې د کلبونو، ځوانانو مرکزونو، اتحادیو او سیمو اداري بدلیږي. دا بدلونونه له ځانه سره نوې نظریې، پرمختګونه او نوي پلانونه راوړي.

اوس ستونزه دا نه ده چې آیا باید پلان جوړ کړو که نه، ځکه ټول ورزشي اداري په یو ډول پلان جوړوي، بلکې اصلي پوښتنه دا ده چې څنګه کولای شو پلانونه په ښه او اغېزمن ډول جوړ کړو. که غوره پلانونه ونه‌لرو او هدف مو واضح نه وي، نو د کارکوونکو (اداره، روزونکي، لوبغاړي، حکام، ډاکټران، کارکوونکي) خواري ضایعه او بې‌نظمي ته مخه کوي. نو پلان جوړونه موږ له ناکامۍ او بې‌ځایه لګښتونو ژغوري او همدارنګه په وخت کې سپما رامنځته کوي.

**د. پلان جوړونه (تخطيط) پېژندنه**

تخطيط لغت أصل کې د (خط) څخه اخيستل شوی الخَطِّ يَخُطُّ [20] معنا ليکل[21] دی لکه د مُعَاوِيَةَ بْنِ الْحَكَمِ السُّلَمِيِّ حديث[22] او عربان وايي: خط الكتاب بيده، يعني کتاب پخپل لاس يې وليکه.

او (الخِطُّ والخِطَّةُ)په کسرې سره هغه ځمکې ته ويل کيږي چې باران ورباندې نه وي شوی او يا هغه ځمکې ته وايې چې تا څخه مخکې هغې ځمکې ته څوک تلي نه وي، (الخُطُّ) ده چې لاره ، طريق او وسيله، کار او أمر[23] ته ويل کيږي [24].

او همدارنګه زبيدي وايی : چې پلان ( الطريق والشارع، و خطها و اختطها ، وهو أن يعلم عليها علامة بالخط ليعلم أنه قد أختارها[25]

**تخطيط (پلان جوړونې)** په اصطلاح کې: تخطيط لپاره ګڼ شمېر تعريفونه شوي ، چې په لاندې ډول يې ذکر کول غواړم:

التخطيط التنبؤ بالمستقبل والاستعداد له[26].

ژباړه: دا د راتلونکي لپاره فکر او وړاندوينه کول او هغه لپاره چمتو والی نيول.

---

[20]ـ په کلام الله تخطيط کلمه نشته بلکې خطه کلمه راغلې ده چې ليکنې په معنا ده : وَمَا كُنْتَ تَتْلُو مِنْ قَبْلِهِ مِنْ كِتَابٍ وَلَا تَخُطُّهُ بِيَمِينِكَ إِذًا لَارْتَابَ الْمُبْطِلُونَ (سورة العنكبوت : ۴۸).

[21]ـ ابن منظور، محمد بن مكرم بن على، أبو الفضل، جمال الدين ابن منظور الأنصاري الرويفعى الإفريقى (وفات: ٧١١هـ)، لسان العرب، خپرندوې اداره: دار صادر – بيروت،چاپ: دريم - ١٤١٤ هـ، عدد الأجزاء: ١٥(٢٨٧/٧).

[22]ـ أَنه سأَل النبيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، عَنِ الخَطِّ فَقَالَ: كَانَ نبيٌّ مِنَ الأَنبياء يَخُطُّ فَمَنْ وافَقَ خَطَّه فذاكَ، وَفِي رِوَايَةٍ: فَمَنْ وافَق خطَّه عَلِمَ مِثْلَ عِلْمِه. الصحيح المسلم،[حديث شمېره: ٥٣٧ ج ١ ص ٣٨١]

[23]ـ الفيروزآبادى، مجد الدين أبو طاهر محمد بن يعقوب الفيروزآبادى (وفات : ٨١٧هـ)، القاموس المحيط، تحقيق: مكتب تحقيق التراث في مؤسسة الرسالة، بإشراف: محمد نعيم العرقسُوسي، خپرندوې اداره : مؤسسة الرسالة للطباعة والنشر والتوزيع، بيروت – لبنان، چاپ : اتم، ١٤٢٦ هـ - ٢٠٠٥م، عدد الأجزاء: ١(٦٦٥/١).

[24]ـ ابن منظور، لسان العرب، (٢٨٩/٧).

[25]ـ الزبيدي ، محمد مرتضى الحسيني الزبيدي، تاج العروس من جواهر القاموس، تحقيق : مجموعة من المحققين، خپرندوې اداره: دار الهدية،(٢٥٠/١٩) .

٢٦ـ فوزي، كمال أهم، 1421 ه ق .الإدارة الإسلامية، مخ٩٥.

هو التنبؤ بما سيكون فى المستقبل حول عناصر العمل اللازمة لتحقيق الهدف المطلوب، و الاستعداد المواجهة معوقات الأداء، و العمل على حلها، و الاستفادة من الايجابيات المتوقعة فى المستقبل، فى اطار زمني محدد، و متابعة هذا الامر وقت التنفيذ.

**ژباړه :** تخطيط د راتلونکي په اړه فکر او وړاندوينه ده چې کومو کارونو ته اړتيا ده ترڅو مطلوب هدف ترلاسه شي، د فعاليت موانعو سره د مقابلې لپاره تياری، او د موانعو د حل لپاره کار کول، د راتلونکي کې د مثبتو پايلو څخه ګټه اخيستل، په ټاکلي وخت کې د تطبيق پر مهال د دې پروسې(کار) تعقيب او څارنه کول.

**پلان جوړونه(تخطيط):** د مربوطه ادارې، سازمان يا مؤسسې د اهدافو د ټاکلو او جوړولو څخه عبارت دی، چې د ټاکلې مودې په ترڅ کې دغو اهدافو ته د رسېدلو لارې چارې هم ښکاره کوي. پلان د هدف يا اهدافو ټاکل او هغو ته د رسېدلو د لارو د پيشبينی څخه عبارت ده ، دا د ادارې يو ډېر مهم عنصر دی هره اداره مکلفه ده ،چې ترهرڅه دمخه لومړی خپل اهداف مشخص او وټاکي او بيا ورسره نور ضروري شيان لکه د تشکيل جوړول ، د دفتر لوازم او نور په پام کې ونيسي په واقعيت کې پلان هدف ته د رسېدلو په خاطر ، د فعاليتونو د تر سره کولو په خاطر يوه ژمنه او تعهد دی. د تخطيط يا پلان جوړونې لپاره عبد الرحمن الضحيان په خپل کتاب کې داسې تعريف کړی(إنه الجسر بين الحاضر والمستقبل. و من هذا التعريف العام يمكن أن نقول أن التخطيط في الإسلام هو الإستعداد فى الحاضر لما يواجه الإنسان في عمله او حياته في المستقبل) . ([٢٧]).

ژباړه: پلان د هغه څه څخه عبارت دی چې د اوس وخت او راتلونکي ترمنځ د پل حېثيت لري، ددې عام تعريف له امله مونږ وېلی شو، چې په اسلام کې پلان ددې څخه عبارت دی ، چې انسان حاضر وخت کې د هغه څه په اړه تياری ونېسي، چې راتلونکي ژوند يا هم چارو کې ور سره مخ کېږي.

---

٢٧ـ الضيحان، عبدالرحمن بن ابراهيم الضيحان، الادارة والحكم فى الاسلام. خپرندوې ادراه : المملكة العربية السعودية،(ب ـ ت ، مخ ٦٥).

**ه.   د پلان جوړونې تاریخچه**

پلان جوړونې واضع او بنسټګر خپله الله جل جلاله دی چې هر څه یې جوړ کړي او طرحه کړي دي، رسول الله ﷺ او خلفاء اکرام د دې الهي نقشې (تحطیط) د پلي کولو مسؤلیت پر غاړه لرل او دلته د اسلامي لید له مخې د پلان جوړونې د ماهیت لنډ بیان وړاندې کېږي. قرآن کریم له ډېرو داسې آیتونو ډک دی چې د پلان جوړونې روښانه بېلګې وړاندې کوي، چې شمېر یې دومره ډېر دی چې په دې ځای کې یې ټول راټولول ناشوني ده.

**و.   په اسلامي دولت کې د پلان جوړونې فکر کله راڅرګند شو؟**

د اسلامي دولت د تاسیس له لومړۍ ورځې څخه په مدینه منوره کې د پلان جوړونې مفکوره راڅرګنده شوه. پېغمبر صلی الله علیه وسلم لومړی اهداف او د هغوی لومړیتوبونه وټاکل، او هغه اړتیاوې یې په ګوته کړه چې د دې اهدافو د ترلاسه کولو لپاره اړین وې، او دا ټول د هغه سیاستونو پر بنسټ چې د سپېڅلې شریعت له مخې نازل شوي وو. همدارنګه، هغه مادي او بشري امکانات چې په هغه وخت کې شتون درلود، په دقیقه توګه وڅېړل شول،او د هغوی د بشپړتیا او پراختیا لپاره اړین ګامونه پورته شول، ترڅو د نوې اسلامي دولت روښانه او ستر اهداف په غوره ډول پوره شي[٢٨].

**ز.   د تخطیط یا پلان جوړولو ګټې او فواید**

په هغو آیتونو کې چې موږ یې د پلان جوړونې په اړه یادونه کړې، ډیرې ګټې اخیستل کېدای شي، چې ځینې یې دا دي:

١)   د پلان جوړونه د اسلام دین له مخې مشروع کار دی، او دا د الله تعالی له طرفه د ژوند صحیح تیرولو سبب دی.

دا په دې معنا ده چې پلان جوړول نه یوازې یو عملي اړخ لري بلکې د اسلام د شریعت له مخې هم د مشروع عمل په توګه پیژندل کیږي. د ژوند لپاره د مناسب پلان جوړول د الله تعالی لخوا د برکتونو او اسبابو پر بنسټ ترسره کېږي، چې انسان ته د ښه ژوند کولو لارې چارې وړاندې کوي.

---

[٢٨]ـ الوقت عمار أو دمار، جاسم محمد بدر المطوع دار الدعوة : مخ١٧.

۲) پلان جوړونه د الله تعالی عبادت دی؛ که نیتونه صادق وي او وسایل صحیح او مشروع وي.

۳) داپه دې چې که د پلان جوړونې نیت الله تعالی ته په رضا او د هغه د شریعت سره سم وي، نو دا عمل د عبادت ګڼل کېږي. همداراز، که کارونه او لارې چارې چې په پلان کې کارول کېږي، په شریعت کې مشروعې وي او د الله تعالی د رضا لپاره وي، نو پلان جوړونه به عبادت وي.

۴) پلان جوړونه (تخطیط) او توکل دواړه هغه څه دي چې الله تعالی او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم یې د ترسره کولو امر کړی دی.

۵) پلان جوړونه د الله تعالی په مشیت پورې اړه لري.

٦) پلان جوړونه د اسلامي شریعت له مخې یوه مشروعه عمل ده.

٧) پلان جوړونه د الله تعالی په کتاب (قرآن) کې بنسټونه (سرچینه) او اصول لري.

٨) د پلان جوړونې لپاره د وخت او زمانې اهمیت پېژندل.

۹) د راتلونکو کارونو لپاره د فکر او احتیاط کول.

۱۰) د هدف ترلاسه کولو لپاره د مناسبې لارې چارې کارولو په څرنګوالي پوهېدل.

۱۱) د ټولنې د وګړو د ژوندانه سطحه ښه (پورته) کول، د عایدات او کاري فرصتونو زیاتوالي.

۱۲) کمیتي او کیفیتي له اړخه د کلتوري سطحې لوړول، او د انساني او فرهنګي ارزښتونو لوړاوی.

۱۳) روغتونونو د برابرولو او د واکسینونو (تطعیمر) په وسیله د درملو د ختمولو له لارې روغتیایي سطحې لوړول (۲۹).

۱۴) د بې کارۍ له منځه وړل او د وړ، روزل شوو او فعال بشري کادرونو برابرول.

۱۵) د نوي ټکنالوژۍ په کارولو سره تولید زیاتول. (۳۰).

۱٦) د پانګونې زیاتول او ځان بسیا ته رسول، دا کار د باندنې (خارجي) له تکیې یا اتکا د کمولو له لارې تر سره کېږي.

۱۷) د لارې ټاکل: پلان جوړونه د اهدافو او لارو په ټاکلو کې مرسته کوي.

[۲۹] ـ الوقت عمار أو دمار، جاسم محمد بدر المطوع، مخ ۹۸.

[۳۰] ـ الادارة العامة مدخل بيني مقارن، دار الفتح: ۲۴۹-۲۵۰.

۱۸) د منابعو همغږي(منسجم) کول: دا د مختلفو هڅو او منابعو همغږي او تنظیم ته لاره برابروي.

۱۹) معیاري کول : پلان جوړونه د ضروري معیارونو لپاره لارښود او چوکاټ جوړوي.

۲۰) د لارې روښانه کول : دا د کړنلارو لپاره یو روښانه نقشه وړاندې کوي.

۲۱) د انسان چمتووالی : دا د افرادو لپاره یوه تیاری برابروي ترڅو د اهدافو ترلاسه کولو لپاره ځان چمتو کړي.

۲۲) د وضعیت افشا کول : پلان جوړونه د موجوده حالت په اړه پوهه ورکوي او د ستونزو او فرصتونو په تشخیص (معلومولو) کې مرسته کوي.

۲۳) کار ته هڅول : پلان جوړونه خلك هڅوي چې په فعال ډول خپل اهدافو ته د رسیدو لپاره لاس په کار شي.

۲۴) د فعالیتونو د تنظیم په وسیله هدف ته د رسېدلو د احتمال لوړول.(دودیال)

۲۵) د فعالیتونو د ښه تنظیم په واسطه په لګښت ، وخت، انرژي او کار کې سپما راوستل.

۲۶) د اهدافو او مقاصدو په لاسته راوړلو تمرکز او اصلي مقصد ته ډېر ځیر کېدل او له مسیر یا لارې ځخه د انحراف مخنیوی دکنترول د لارو چارو برابرول.

۲۷) د هماهنګی رامنځته کول.

۲۸) د پلان ترتطبیق وروسته د راپور د چمتوکولو په خاطر د یوه معیار موجودیت (دودیال، ۱۳۸۸ ل. ۱۳۸).

## د پلان جوړونې عملي بیلګې

### د پلان جوړونې عملي بیلګې په هکله د یوسف علیه السلام واقعه

الله جل جلاله د یوسف علیه السلام په کیسه کې د پلان جوړونې د عملي بیلګه او د بحران(اضطرار) مدیریت لپاره دقیق پلان جوړولو یادونه کوي، یوسف علیه السلام د مصر د قحطی بحران لپاره د کرنیز پلان وړاندې کړ، چې مصر حاکم د هغه تایید کړ اویوسف علیه السلام یې د تطبیق لپاره وټاکه الله جل جلاله فرمایي: ﴿وَقَالَ الْمَلِكُ إِنِّي أَرَى سَبْعَ بَقَرَاتٍ سِمَانٍ يَأْكُلُهُنَّ سَبْعٌ عِجَافٌ وَسَبْعَ سُنْبُلَاتٍ خُضْرٍ وَأُخَرَ يَابِسَاتٍ يَا أَيُّهَا الْمَلَأُ أَفْتُونِي فِي رُؤْيَايَ إِنْ كُنْتُمْ لِلرُّؤْيَا تَعْبُرُونَ * قَالُوا أَضْغَاثُ أَحْلَامٍ وَمَا نَحْنُ

**بِتَأْوِيلِ الْأَحْلَامِ بِعَالِمِينَ * وَقَالَ الَّذِي نَجَا مِنْهُمَا وَادَّكَرَ بَعْدَ أُمَّةٍ أَنَا أُنَبِّئُكُمْ بِتَأْوِيلِهِ فَأَرْسِلُونِ * يُوسُفُ أَيُّهَا الصِّدِّيقُ أَفْتِنَا فِي سَبْعِ بَقَرَاتٍ سِمَانٍ يَأْكُلُهُنَّ سَبْعٌ عِجَافٌ وَسَبْعِ سُنْبُلَاتٍ خُضْرٍ وَأُخَرَ يَابِسَاتٍ لَعَلِّي أَرْجِعُ إِلَى النَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَعْلَمُونَ * قَالَ تَزْرَعُونَ سَبْعَ سِنِينَ دَأَبًا فَمَا حَصَدْتُمْ فَذَرُوهُ فِي سُنْبُلِهِ إِلَّا قَلِيلًا مِمَّا تَأْكُلُونَ * ثُمَّ يَأْتِي مِنْ بَعْدِ ذَلِكَ سَبْعٌ شِدَادٌ يَأْكُلْنَ مَا قَدَّمْتُمْ لَهُنَّ إِلَّا قَلِيلًا مِمَّا تُحْصِنُونَ * ثُمَّ يَأْتِي مِنْ بَعْدِ ذَلِكَ عَامٌ فِيهِ يُغَاثُ النَّاسُ وَفِيهِ يَعْصِرُونَ ﴾**[۳۱]

ژباړه: ۴۷یوسف علیه السلام (په جواب کې ورته ) وویلې چې تاسو به اوه کاله په مستمره توګه کرونده وکړئ نو کوم (حاصلات) چې تاسو وریبل هغه په خپلو وږو کې پریږدئ (اوغوبل کوئ مه) مګر لږ (غوبل کړئ) چې د هغو (حاصلاتو) څخه عبارت دي کوم چې تاسو (روزمره) خورئ. بیا به د دغو اوو کالو څخه وروسته داسې سخت کلونه راشي چې دغه (کلونه به) هغه (حاصلات) وخوري( ختم کړي) کوم چې تاسو د همدې (سختو کلونو) لپاره وړاندې (ذخیره کړي) وي، مګر( فقط) لږ(به پاتې شي) چې (دا لږ) د هغه (حاصلاتو) څخه عبارت دي کوم چې تاسو (د تخم کرلو لپاره) ساتئ. بیا به د دغو (سختو کلونو) څخه وروسته داسې کال راشي چې په دې کې به دخلکو فریاد رسي وشي(او بارانونه به پرې وریږي) او په دې کې به ( میوه جات پرېمانه شي) او خلک به یې لعاب وباسي ( او جوسونه ترې جوړوي).

په دې آیت کریمه کې یوسف علیه السلام د مصر د قحط کالی د مخنیوي لپاره ۱۴ کلن پلان جوړ کړه چې اوه کاله به فصل کري او ۷ نورو کلونو لپاره به ذخیره کوي ترڅو مصر او د هغه چاپیر نور هیوادونه د غذايي بحران څخه محفوظ شي.

ابن کثیر رحمه الله یادو آیتونو په تفسیر کې داسې لیکي: دا خوب د مصر د پاچا له لوري وو، چې الله تعالی داسې تقدیر کړی و چې دا د یوسف علیه‌السلام د درناوي او عزت سره له بند څخه د خلاصون سبب شي، او دا ځکه چې پاچا دغه خوب ولید، نو هغه ته دا خوب وېرونکی او حیرانوونکی ښکاره شو، او د هغه خوب د تعبیر په اړه یې نه پوهیده، نو د خپل دولت د مشرانو، امیرانو، کاهنانو او جادوګرو راغونډ کړه، او دوی ته یې خپل لیدلی خوب بیان کړ، او له هغوی څخه یې د خوب

---

[۳۱]ـ سورة يوسف :٤٣-٤٩.

تعبير وغوښت، مگر هغوی د هغې تعبير ونه پېژاندو، هغوی پاچا ته عذر وړاندې کړ او ویې ويل: دا «أَضْغَاثُ أَحْلَامٍ» دي، يعنې دا گډ وډ او مغشوش خوبونه دي، چې دايې پايله ده، «وَمَا نَحْنُ بِتَأْوِيلِ الأَحْلَامِ بِعَالِمِينَ» يعنې: که دا رؤيا د ريښتينو خوبونو څخه وای، بيا هم موږ د هغې په تعبير نه پوهېږو، يعنې دخوب د تعبير علم نه لرو، په دغه وخت کې هغه کس چې له هغو دوو ځوانانو څخه ژغورل شوی و ـ چې له يوسف عليه‌السلام سره په زندان کې وو ـ را په ياد شو، دا چې شيطان هغه نه د يوسف عليه‌السلام هغه وصيت هير کړی و، چې پکې د پاچا ته د ده د يادولو غوښتنه شوی وه. نو کله چې دا پېښه وشوه، (بَعْدَ أُمَّةٍ) يعنې :له يوې مودې يا اوږده وخت وروسته هغه کس ته راپه ياد شو، ځينو داسې("بعد أَمةٍ) هم لوستي، يعنې: د هېرېدنې وروسته، نو هغه کس پاچا او هغو خلکو ته چې پاچا د خوب د تعبير لپاره راټول کړي وو، وويل: (أَنَا أُنَبِّئُكُمْ بِتَأْوِيلِهِ)، يعنې: زه به تاسې ته د دې خوب تعبير در ووايم، (فَأَرْسِلُونِ)، يعنې ماته اجازه راکړئ چې زندان ته لاړ شم او له يوسف عليه‌السلام څخه يې تعبير پوښتنه وکړم.

خلاصه دا چې هغوی دی واستاوه، هغه هم ورغی، او يوسف عليه السلام ته وويل: « يُوسُفُ أَيُّهَا الصِّدِّيقُ أَفْتِنَا» يوسف، ای صديق! موږ ته تعبير ووايه» او د هغه خوب يې، چې پاچا يې ليدلی و، ورته يې بيان کړ، نو پدې وخت کې يوسف عليه السلام ورته يې تعبير وکړه، پرته له دې چې هغه ځوان ته د هغه وصيت د هېرولو له امله څه ډول سزا ورکړي کوم چې ورته يې ويلي و، او بی غیر له دې چې د خوشې کېدو لپاره مخکې له مخکې کوم شرط وټاکي، بلکې وويل : ﴿ تَزْرَعُونَ سَبْعَ سِنِينَ دَأَبًا ﴾يعنې: چې تاسو باندې به په پرله پسې ډول اوه کلونه قحطي کلونه او باران کلونه راځي، د هغه غواوې تعبير په کلونو سره وکړه؛ ځکه چې (غواوې) هغه ځمکه کړوي چې له هغې څخه مېوې او کرنيزې حاصلې ترلاسه کېږي، او دا شنه وږي (سنبلې) دي، بيا يې هغوی د هغو کلونو لپاره لارښوونه وکړه چې څه ډول پرې تکيه وکړي، اوويل:﴿فَمَا حَصَدْتُمْ فَذَرُوهُ فِي سُنْبُلِهِ إِلا قَلِيلا مِمَّا تَأْكُلُونَ ﴾يعنې: هر څومره حاصل چې تاسو د دې اوو حاصل‌خېزو کلونو په موده کې تر لاسه کوئ، هغه په خپلو وږو کې زېرمه کړئ، ځکه داکار به حاصل ډېر وخت تازه وساتي او له خرابېدو به يې ژر وژغوري، پرته له هغه لږ مقدار څخه چې تاسو يې د خوراک لپاره لرئ،

او بايد دا (خوراک) لږ لږ وي، اسراف (بې ځايه لګښت) مه کوئ، ترڅو له دې څخه په هغو اووه سختو (کالونو) کې ګټه واخلئ، چې هغه د وچکالۍ او سختۍ اووه کلونه دي چې د دې اووه (حاصلخېزو) کلونو نه وروسته پرله‌پسې راځي، او دا هماغه وچې غواوې دي چې ښې څربې غواوې خوري؛ ځکه د وچکالۍ په کلونو کې هغه څه خوړل کېږي چې د حاصل‌خېزو کلونو په مهال راټول شوي وي، او دا هماغه وچې وږي (سنبلې) دي ([۳۲]).

قرآن کريم موږ ته د يوسف عليه‌السلام اصطلاح وړاندې کړې، چې هغه په دولت کې خپل اغېزناک اداري او مالي رول ادا کړ، لکه څنګه چې الله تعالی فرمايي: ﴿قَالَ اجْعَلْنِي عَلَى خَزَائِنِ الْأَرْضِ إِنِّي حَفِيظٌ عَلِيمٌ﴾ يوسف وويل: ما د هېواد د خزانو (مالياتو او شتمنيو) سرپرست وټاکه، زه ساتونکی (امين) او پوه يم ([۳۳]).

سورة يوسف په ډېروتخطيطونو(پلان جوړونو) باندې مشتمله ده چې ځينې يې په لاندې ډول دي:

۱. د حاصلاتو د زياتوالي لپاره پلان جوړونه: الله تعالی فرمايي : ﴿قَالَ تَزْرَعُونَ سَبْعَ سِنِينَ دَأَبًا﴾

۲. - دغلې او دانې ساتلو لپاره پلان جوړونه : الله تعالی فرمايي : ﴿فَمَا حَصَدْتُمْ فَذَرُوهُ فِي سُنْبُلِهِ﴾

۳. - دمصرف د کنټرول لپاره پلان جوړونه: الله تعالی فرمايي : ﴿إِلَّا قَلِيلًا مِمَّا تَأْكُلُونَ﴾ (۳٤)

۴. - د زېرمې (ذخيره کولو) مديريت لپاره پلان جوړونه: الله تعالی فرمايي : ﴿ِلَّا قَلِيلًا مِمَّا تُحْصِنُونَ﴾

۵. په مشرتابه او ښه څارنه کې پلان جوړونه: الله تعالی فرمايي: ﴿وَجَاءَ إِخْوَةُ يُوسُفَ فَدَخَلُوا عَلَيْهِ فَعَرَفَهُمْ وَهُمْ لَهُ مُنْكِرُونَ * وَلَمَّا جَهَّزَهُمْ بِجَهَازِهِمْ قَالَ ائْتُونِي بِأَخٍ لَكُمْ مِنْ أَبِيكُمْ أَلَا تَرَوْنَ أَنِّي أُوفِي الْكَيْلَ وَأَنَا خَيْرُ الْمُنْزِلِينَ.﴾

---

[۳۲]ـ ابن کثير ۳۹۲/۴.

[۳۳]ـ سورة يوسف : آيت ۵۵

[۳٤]ـ سورة يوسف: ٤٧

**د نوح عليه السلام د کشتي جوړولو قصة**

**﴿ وَاصْنَعِ الْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا وَلَا تُخَاطِبْنِي فِي الَّذِينَ ظَلَمُوا إِنَّهُمْ مُغْرَقُونَ (٣٧) وَيَصْنَعُ الْفُلْكَ وَكُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ مَلَأٌ مِنْ قَوْمِهِ سَخِرُوا مِنْهُ قَالَ إِنْ تَسْخَرُوا مِنَّا فَإِنَّا نَسْخَرُ مِنْكُمْ كَمَا تَسْخَرُونَ (٣٨) فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ مَنْ يَأْتِيهِ عَذَابٌ يُخْزِيهِ وَيَحِلُّ عَلَيْهِ عَذَابٌ مُقِيمٌ (٣٩) حَتَّى إِذَا جَاءَ أَمْرُنَا وَفَارَ التَّنُّورُ قُلْنَا احْمِلْ فِيهَا مِنْ كُلٍّ زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ وَأَهْلَكَ إِلَّا مَنْ سَبَقَ عَلَيْهِ الْقَوْلُ وَمَنْ آمَنَ وَمَا آمَنَ مَعَهُ إِلَّا قَلِيلٌ (٤٠)﴾**[٣٥].

ژباړه:[٣٧] او زمونږ په سترګو (حفاظتونو) او زمونږ په وحې(الهام او تعليم ) سره بېړۍ جوړه کړه او په راتلونکی کې زمونږ سره د هغو خلکو په هکله خبرې(سوالونه) مه کوه کومو چې ظلم اختيار کړی دی( او دا ځکه چې) يقيناً دوی غرق کړی شوي دي(ډېر ژر به غرق کړای شي).

[٣٨] او (د ذکر شوي ارشاد څخه وروسته) نوح عليه السلام بېړۍ جوړوي(کشتي به يې جوړوله) او هر کله به چې په ده باندې د خپل قوم يوه ډله تېرېده نو په ده عليه السلام باندې به يې خندل(او ټوکې ټکالې به يې ورپورې کولې خو) نوح عليه السلام به (ورته په جواب کې) ويلې چې که تاسو په مونږ پورې خاندئ نو يقيناً مونږ په تاسو پورې خاندو لکه څنګه چې تاسو (په مونږ پورې) خاندۍ ( خو تاسو د خندا وړ ياست او مونږ د خندا وړ نه ياستو).

[٣٩] (ځکه چې) ډېر ژر به تاسو پوه شئ ( چې په مونږ او تاسو کې) هغه څوک دی چې داسېعذاب ور روان دی چې رسوا به يې کړي( د خندنې لپاره به لايق شي) او (هم) به پرې( په آخرت) کې ) دايمي عذاب ور خلاص (وربښکته) شي ( هغه فقط تاسو ياست او بس).

[٤٠] (نوح عليه السلام د کشتي صنعت ته دمسخرو سره سره ادامه ورکړه) آن ترديې چې زمونږ(د) فرمان (وخت) ورغی( ور ورسېد) او تنور ( د اوبو د حيثه) راوخوټېد نو مونږ(نوح عليه السلام ته) وويلی چې په بېړۍ کې د (ساکښانو) د هر يوه جنس څخه دوه فرده (يوه جوړه فقط) دوه (يو نراو يوه ښځه) بار کړه ( وخېژوه)، او هم (خپله ټوله) کورنۍ(هم پکې پورته کړه) مګر هغه څوک چې په هغه باندې

[٣٥]_ سورة هود: ٣٧ـ 40آيتونه.

خبره (لا) پخوا فيصله شوې ده(چې هغه به غرقيږي)، او هغه څوک ( هم وخېژوه) چې ايمان يې راوړی دی او د نوح عليه السلام سره ايمان نه وه راوړی مګر لږو کسانو.

پدې آيت چې نوح عليه السلام د راتلونکي مشکل(طوفان) څخه د بچ کېدو لپاره تياري نيسي چې دا هم د پلان جوړونې عملي بيلګه ده.

**سعد ابن ابي وقاص** رضي **الله عنه واقعه**

په نبوي احاديثو دپلان جوړونې عملي بيلګه ور څخه څرګنديږي، له دې جملې څخه يو هم دا سعد ابن ابي وقاص رضي الله عنه روايت دی چې د خپل پلار څخه روايت کوي هغه وايي د حَجَّة الْوَدَاع په کال زه مريض وم رسول الله صلى الله عليه وسلم مې پوښتنې ته راغی، ما ورته وويل: حالت مې ته ګورې، چې ښه نه يم او زه ډېر مال لرم او يواځې يوه لور لرم؛ غواړم، چې د خپل مال دوه دريمه برخه(٢/٣) صدقه کړم، رسول الله صلى الله عليه وسلم راته وويل: نه، بيا ما ورته وويل: چې نصف(نيمه) صدقه کړم بيا راته وويل: نه ، بيا وويل : چې ثُلُث صدقه کړه، او ثُلُث هم ډېر دی بيا يې راته وويل: (إِنَّكَ أَنْ تَذَرَ وَرَثَتَكَ أَغْنِيَاءَ ، خَيْرٌ مِنْ أَنْ تَذَرَهُمْ عَالَةً يَتَكَفَّفُونَ النَّاسَ... الخ) (٣٦).

ژباړه: داچې خپله ورثه مالداره پرېږدې غوره ده له دې څخه ، چې اړمن او محتاج وي او د خلکو څخه سوال کوي.

دې حديث نه څرګنديږي چې احتياط واجب دی، په انسان باندې لازمه ده چې د الله جل جلاله څخه وروسته أسبابو سره پخپل ځان باندې متکي واوسي، دې لپاره چې ښايسته ژوند وکړي او د سوال څخه او اعتماد په بل چا باندې کولو څخه

---

٣٦ـ البخاري محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري الجعفي ،المحقق: محمد زهير بن ناصر الناصر، الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه = صحيح البخاري ،خپرندوې ادراه : دار طوق النجاة (مصورة عن السلطانية بإضافة ترقيم ترقيم محمد فؤاد عبد الباقي)،چاپ : لومړی، ١٤٢٢هـ،عدد الأجزاء: ٩(حديث شمېره: ٤٤٠٩/ج ٥مخ ١٧٨).

بچ شي او رسول الله صلی الله علیه وسلم په ښکاره ډول سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ رضي الله عنه ته د خپل اهل د راتلونکي په اړه پلان جوړونې عملي درس ورښوده.

### د رسول صلی الله علیه وسلم د هجرت واقعه

د پلان جوړونې تر ټولو څرګنده بیلګه د رسول صلی الله علیه وسلم د هجرت په کیسه کې موندل کېدای شي؛ لکه له انصارو سره د عقبه بیعت، علي رضی الله عنه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په بستر کې تنظیمول ، د ابوبکر صدیق کور ته په پټه تلل، له هغه سره د هجرت د طریقې په اړه خبرې کول، د آل ابی بکر لخوا د سفر ټول ضروري توکي او امکانات ترتیبول ، د أمین لارښود ټاکل، غیر معمولی لارې انتخابول او نو هغه أمور چې په دې مبارك سفر کې له پیل څخه په نظر کې نیول شوي وو.

د نبوي مسجد جوړول د عبادت او پلان جوړونې مرکز په توګه د مهاجرینو او انصارو ترمنځ ورورولی ټینګول، له مدینې میشتو یهودي قبیلو سره معاهده او د مدیني میثاق[۳۷](په مدینه کې د اسلامي حکومت اساسي قانون) د رسول صلی الله علیه وسلم د پلان جوړونې څرګندې بیلګې دي.

همدارنګه رسول الله صلی الله وسلم په خپله په عملي ډول د پلان جوړونې څخه استفاده کړې د بېلګې په ډول: دلته یواځې د هجرت واقعه کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د پلان جوړونې څخه یادونه کوو ، چې هغه څرنګه هر شخص په ځانګړې دنده وګماره: کله چې د الله تعالی له طرفه نبي علیه السلام ته د جبرئیل علیه السلام په واسطه د هجرت حکم وشو ،رسول صلی الله علیه وسلم د هجرت بې مثاله طریقه تنظیم او پلان ګذاري کړه، نبي علیه السلام ته حکم وشو ، چې په دې شپه به پخپله بستره نه ویده کیږي، رسول صلی الله علیه وسلم حضرت علي رضي الله عنه ته پخپله بستره د ویده کېدو حکم وکړ، پس ددېنه ، چې رسول صلی الله

[۳۷]ـ ابن هشام،عبد الملك بن هشام بن أيوب الحميري المعافري، أبو محمد، جمال الدين (وفات: ۲۱۳هـ)،محقق: مصطفى السقا وإبراهيم الأبياري وعبد الحفيظ الشلبي، السيرة النبوية لابن هشام، خپرندوی اداره: شركة مكتبة ومطبعة مصطفى البابي الحلبي وأولاده بمصر،چاپ: دویم، ۱۳۷۵هـ - ۱۹۵۵م،عدد الأجزاء: ۲(۵۰۴/۱).

عليه وسلم ده ته اطمنان ورکړ ، چې تاته به د کافرانو له طرفه هېڅ تکليف نه رسيږي، بيا د ابوبکر صديق رضي الله عنه کور ته ورغی، حضرت عائشة رضي الله عنها دا واقعه دارنګې بيانوي، چې رسول صلى الله عليه وسلم ډېر وختي د ابو بکر رضي الله عنه کور ته ورغی، چې په دې وخت کې د رسول صلى الله عليه وسلم راتګ معمول نه و ،کله چې ابو بکر رضي الله عنه رسول صلى الله عليه وسلم وليد پوه شو، چې يو نوی کار پېدا شوی ځکه خو رسول صلى الله عليه وسلم په دې وخت کې راغی، چې مخکې به نه راتللو، رسول صلى الله عليه وسلم د ابوبکر رضي الله عنه نه غوښتنه وکړه ، چې يواځې شي ځکه چې د رسول صلى الله عليه وسلم به د ابوبکر رضي الله عنه سره رازونه و، بيا يې ورته وويل:

﴿إِنَّ اللَّهَ قَدْ أَذِنَ لِي فِي الْخُرُوجِ وَالْهِجْرَةِ﴾ يعني الله تعالى ماته د وتلو او د هجرت حکم کړی، ابوبکر رضي الله عنه ترې د ملګرتيا غوښتنه وکړه رسول صلى الله عليه وسلم دا غوښتنه ومنله او د هجرت پلان، تنظيم او ترتيب يې په لاندې ډول سره جوړ کړ(۳۸):

۱) : عبد الله بن اريقط يې په اجاره ونيو، چې دواړو ته لاره وښايي.
۲) : عبد الله بن ابوبکر ته يې وظيفه ورکړه، چې په مکه کې به د ورځې پاتې کيږي، چې د کافرانو خبرې واوري او جمع يې کړي اودوی ته معلومات ورکړي او دا عمل د اوسني وخت په اصطلاح کې استخباراتي عمل دی.
۳) : اسماء رضی الله عنها ته يې وظيفه ورکړه، چې خوراك به برابروي او ماښام به يې غار ته وروړي.
۴) : عامر بن فهيره غلام يې مکلف کړ، چې نوموړې به د ورځې ګډې څروي او ماښام به غار طرف ته ګډې راولي، چې يو خو به دوی ته شوده ورکوي او بل به د عبدالله او اسماء رضی الله عنهما آثار د قدمونو په ګډو سره ختموي. (۳۹).
۵) د لارې لپاره پلان : رسول صلى الله عليه وسلم په زيرکتيا سره داسې لاره انتخاب کړه چې پدې لاره تګ راتګ خلکو کم وو، او ډېره مشهوره لاره نه وه(۴۰) .

۳۸ـ السيرة النبوية لابن هشام، (ټوک ۱/ مخ ۴۸۵ـ ۴۸۸).
۳۹ـ حقاني، السياسة والادارة الشرعية فى ضوء ارشادات خير البرية ۳۲۸.
۴۰ـ التخطيط النبوي لحادثة الهجرة، مخ ۳۴.

٦) د رفيق او د لارې ملگرتيا لپاره پلان : لكه د ابوبكر صديق رضى الله عنه انتخاب ([٤١]).

٧) د پټېدو لپاره پلان : هغه غار چې رسول صلى الله عليه وسلم انتخاب كړه غار ثور و، كوم د پلان له مخې و ([٤٢]).

١. **هجرت نبوي** :په ٦٢٢م كال كې كله چې حضرت محمد صلى الله عليه وسلم مكې ته له مدينې ته هجرت وكړ، دا يو پلان و چې د اسلامي دولت د جوړولو لپاره يې و، او په سختو شرايطو كې د مسلمانانو خوندي لېږد لپاره تيار شوی و، د پلان جوړونې عملي بيلگه ده.

٢. **غزوه بدر** : د بدر جگړه (٢ هـ) كې، حضرت محمد صلى الله عليه وسلم د جگړې لپاره ستراتيژي جوړه كړې وه، او د موجودو منابعو، پوځ، او اهدافو په پام كې نيولو سره يې پرېكړې وكړې. دا د پلان جوړونې يوه ښه بېلگه ده.

٣. **د دولت ادارې سمبالول** :كله چې اسلامي دولت په مدينه كې جوړ شو، د دې دولت په اداره كې ډېرى تنظيمي او پلان جوړونې اړخونه موجود وو، لكه د ځمكو ويش، ماليې ټاكل، د پوځ تنظيمول، او د سوداگرۍ ادارې. دا د اقتصادي او اداري پلان جوړونې يوه روښانه بېلگه ده.

٤. **د خلفاؤ د راشدينو دوران** : د خلفاؤ راشدينو په دوران كې، د دولت اداره او د امت چارو سمبالښت ته د پلان جوړونې ستراتيژۍ موجودې وې، په ځانگړې توگه د اسلامي فتوحاتو او د نويو سيمو د پراختيا لپاره چې دقيق اداري او اقتصادي ستراتيژيو ته اړتيا وه.

٥. بدر، أحد، او احزاب او نورو غزواتو كې له مشركينو سره د مقابلې لپاره چمتووالى، او د موجودو منابعو، پوځ، او اهدافو په پام كې نيولو سره يې پرېكړې وكړې. دا د پلان جوړونې يوه ښه بېلگه ده.

٦. دمكې مكرمې د فتحې لپاره په پټه توگه چمتووالى، د كعب بن اشراف او ابو رافع د له منځه وړولو لپاره چمتوالى، د خيبر د فتحې لپاره او دتبوك غزا لپاره

[٤١]ـ مخكنې مرجع: مخ ٢٧

[٤٢]ـ مخكنې مرجع: مخ ٢٧

هر ارخیزه پلان او ... دا ټول د رسول صلی الله علیه وسلم په سیاسي سیرت کې د پلان او برنامه جوړونې لویې بیلګې ښیي.

۷. کله چې رسول صلی الله علیه وسلم خپل یاران د مؤته غزا ته لیږل، دیادې غزا پلان یې خپله طرحه کړ، زید بن حارثه یې د امیر په توګه وټاکه او که هغه شهید شي، جعفر بن ابی طالب او که هغه هم شهید شي، عبدالله بن رواحه یې ځای ناستې وټاکه، دا دحکیمانه او نبوي لرلید لرونکی پلان جوړونې یوه بیلګه وه(۴۳).

دا چې پلان جوړونه په اسلامي شریعت کې اوچت مقام لري او همدارنګه له پلان څخه پرته کار کول یوه بې‌معنا هڅه او د وخت ضایع کول دي، ځکه چې پلان نشتون کې ګډوډي او بې‌نظمي راځي، چې په پایله کې هدف ته رسېدل ډېر ستونزمن او ګران شي.

پورته آیتونه او أحادیثو سربیره، په اسلامي شریعت کې نورې بیلګې هم شته چې د پلان لرلو نه یواځې ثبوت ورکوي بلکې ټینګار پرې کوي او اسلامي حکومت هڅوي چې د خپلو برنامو لباره لنډ مهاله او اوږد مهاله پلانونه ولري.

**مناقشه**

دلته د موضوع اړوند د پخوانیو لیکنو عمده موضوعات او موندني مناقشه او وړاندي کوم:

ښاغلي ناصر الدین د پلان پر تاریخچه رغېدلی، او دایې په ډاګه کړې ده چې پلان جوړونه د نن ورځې نوې خبره نه ده، بلکې دا د اسلام له پیل سره په اسلامي لاربښوونو کي مسلمانانو ته ښودل سوې او عملا تطبیق سوې ده( .ناصر الدین، ۲۱۱۲ م)

ښاغلي لیکوال په خپله مقاله کي د پلان پر پېژندنه، ډولونو، پړاوونو باندي بحث کړی دی، وروسته یې د ذي القرنین په ژوند کي د پلان پر تطبیق او پړاوونو،

[43]ـ مسند أحمد : و ان رسول بعث الی مونة فاستعمل زیدا فان قتل زید فجعفر فان قتل جعفر فابن رواحة ..... خیر من الدنیا و مافیها.

او تر هغه وروسته د يوسف عليه السلام په ژوند كي د پلان پر كارونه او په پاى كي د رسول الله صلى الله عليه وسلم په ژوند كي د پلان پر كارونه بحث كړى دى( .ليكوال نوم نسته، ۲۱۱۱ م)

ښاغلي هنيدي په خپله مقاله كي د اسلامي پلان جوړوني ځانگړتياوو په ترڅ كي دا ويلي دي چي د دې نوښتگر او جوړوونكى خپله الله تعالى دى، او رسول الله صلى الله عليه وسلم او د هغه خلفاء هغه څوك وه چي دا يې تطبيق كړى دى . تر هغه وروسته يې په قرآن كريم، نبوي سنت كي د پلان جوړوني بېلگې او نمونې راوړې( .هنيدي، ۲۱۱۱ م)

**پايله**

ددې څېړنې په پاى كې لاندې نتائج ترلاسه شوي دي:

پلان جوړونه په اسلامي شريعت كي مشروع او خورا زيات اهميت لرونكى دى، اوپلان د كون د پيدا كېدو سره سم رامنځته او په اسلام كې د رسول صلى الله عليه وسلم له بعثت سره سم شروع شوى دى او اسلام خپل پيروان د هغه اهميت ته متوجه او عملا يې په احكامو كي ځاى وركړى دى .دغه اهميت ته په كتو قرآن كريم او نبوي أحاديثو كې زيات مثالونه لري چې د قران كريم مثال يو يې هم يوسف عليه السلام واقعه او د نبوي مثال يو يې هم دا سعد ابن ابي وقاص رضي الله عنه روايت د مثال صدقه كولو په هكله ده چي په لوړه كچه د پلان جوړوني يوه غوره شاهد او مثال دي. د عامه پاليسيو او هغو بنسټونو لپاره چي اسلامي دولت ورسره سرو كار لري د اسلامي پلان جوړوني يوه ځانگړتيا دا ده چي د دې باني او جوړوونكى خپله الله تعالى دى، او رسول الله صلى الله عليه وسلم او د هغه خلفاء هغه څوك وه چي دا يې تطبيق كړي دي.

**وړانديزونه**

۱. علماء كرامو ته مي دا وړانديز دى چي د منبرونو او تبليغي او تزكيوي حلقاتو له لاري د مسلمانانو په عوامو او خواصو كي د پلان پر جوړوني اړيني او گټوري ويناوي وړاندي كړي، تر څو مسلمانان چي د خپل دين د ارشاداتو

زيات احترام کوونکي دي، د پلان جوړوني په برخه کې نور هم متوجه او چټک شي.

۲. عالیقدر أمیرالمؤمنین ته وړاندیز کېږي چې پلان او پالیسي مستقل وزارت ایجاد کړي.

**مأخذونه**


القرآن الكريم

ابن كثير: أبو الفداء إسماعيل بن عمر بن كثير القرشي البصري ثم الدمشقي (وفات : ٧٧٤هـ)، محقق: سامي بن محمد سلامة، تفسير القرآن العظيم،خپرندوي ادراه : دار طيبة للنشر والتوزيع، چاپ : دويم ١٤٢٠هـ - ١٩٩٩ م.

ابن منظور، محمد بن مكرم بن على، أبو الفضل، جمال الدين ابن منظور الأنصاري الرويفعى الإفريقى (وفات: ٧١١هـ)، لسان العرب، خپرندوي ادراه: دار صادر – بيروت،چاپ: دريم - ١٤١٤ هـ.

ابن هشام،عبد الملك بن هشام بن أيوب الحميري المعافري، أبو محمد، جمال الدين (وفات: ٢١٣هـ)،محقق: مصطفى السقا وإبراهيم الأبياري وعبد الحفيظ الشلبي، السيرة النبوية لابن هشام، خپرندوي اداره: شركة مكتبة ومطبعة مصطفى البابي الحلبي وأولاده بمصر،چاپ: دويم، ١٣٧٥هـ - ١٩٥٥م.

الادارة العامة مدخل بيني مقارن، دار الفتح،(ب ـ ت).

باسعد، أ.د. نوال بن عمر بن عبدالله باسعد، التخطيط النبوي لحادثة الهجرة، خپرندوي اداره: دارالصميعي للنشر والتوزيع، چاپ: أول، ١٤٣٩هـ ق مطابق ٢٠١٨م.

بخاري محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري الجعفي،المحقق: محمد زهير بن ناصر الناصر، الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه = صحيح البخاري،خپرندوي ادراه : دار طوق النجاة (مصورة عن السلطانية بإضافة ترقيم ترقيم محمد فؤاد عبد الباقي)،چاپ : لومړی، ١٤٢٢هـ.

حقاني، ابوعبدالرحمن عبدالباقي، السياسة والادارة الشرعية فى ضوء ارشادات خير البرية، خپرندوي اداره: المكتبة الحقانية لعلوم السياسة الشرعية، ١٤٢٤ هـ ق.

زبيدي ، محمد مرتضى الحسيني الزبيدي، تاج العروس من جواهر القاموس، تحقيق : مجموعة من المحققين، خپرندوي اداره: دار الهدية،(ب ـ ت).

الضيحان، عبدالرحمن بن ابراهيم الضيحان، الادارة والحكم فى الاسلام. خپرندوی
ادراه : المملكة العربية السعودية،(ب ـ ت).
عزيز، مولوي سلطان عزيز(عزيز) أبوحذيفه،عزيز التفاسير، خپرندوي اداره: دار
الكنوز العليمة، ،(ب ـ ت).
فوزي، كمال أدهم .الإدارة الإسلامية دراسة مقارنة بين النظم الإسلامية والوضعية
الحديثة،خپرندوي اداره: بيروت دا رالنفائس، چاپ: لومړی ۱۴۲۱ هـ.
الفيروزآبادى، مجد الدين أبو طاهر محمد بن يعقوب الفيروزآبادى (وفات :
۸۱۷هـ)، القاموس المحيط، تحقيق: مكتب تحقيق التراث في مؤسسة
الرسالة، بإشراف: محمد نعيم العرقسُوسي، خپرندوي ادراه : مؤسسة
الرسالة للطباعة والنشر والتوزيع، بيروت – لبنان، چاپ : اتم، ۱۴۲۶ هـ -
۲۰۰۵م.
مسلم، مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري النيسابوري (وفات: ۲٦۱هـ)،محقق:
محمد فؤاد عبد الباقي المسند الصحيح المختصر بنقل العدل عن العدل
إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم، خپرندوي اداره: دار إحياء التراث
العربي – بيروت، ،(ب ـ ت).
جاسم ،الوقت عمار أو دمار، جاسم محمد بدر المطوع دار الدعوة، ،(ب ـ ت).
هنيدى،عبدالعزيز بن محمد هنيدى، التخطيط فى الإدارة الإسلامية ،چاپ کال:
۱۴۳۱ هـ . ق.

# Practical Examples of Planning in the Light of the Holy Quran and Prophetic Hadiths

Abdulmutalib Rasikh[1]*, Hazrat Ali Khalili[2], Raufullah Himmat[3]
[1,2] Department of Islamic Culture, Faculty of Sharia, Laghman University, Afghanistan
[3] Noora High School, Laghman Province, Afghanistan

**Abstract:**

The blessed religion of Islam addresses all aspects of life and takes human needs into account, Since Islam is a complete, universal, and comprehensive system, planning is considered necessary within this framework in order to organize actions in a timely and structured manner.The primary objective of this research is to highlight examples of planning in Islamic Shariah, which is based on two main goals: This study examines examples of planning in the light of the Noble Qur'an and the Prophetic Hadiths, The research methodology adopted is a library-based approach, drawing upon 20 references in this area, The study largely benefited from Al-Maktaba Al-Shamela and Khadim Al-Haramayn Al-Sharifayn**.** Additionally, several websites and thematic analysis were also utilized, Scholars have conducted several writings in this field; however, no specific article or study was found that explicitly addresses this particular topic, throughout this article, it will become clear that planning is a legitimate practice in Islamic Shariah. Additionally, examples of planning will be highlighted in the light of the Noble Qur'an and the Prophetic Hadiths. Planning is considered a religious duty and of great importance; therefore, institutions are encouraged to incorporate planning into their activities and lives.

**Key Words:** Holy Qur'an, Hadith , Planning, *Benefits, Examples.*